**رجب؛ د امت د بریاوو او ویاړونو میاشت!**

(ژباړه)

زېري ډېر دي او له الله سبحانه وتعالی څخه هیله همېشنۍ ده. موږ ایمان لرو چې حالت به بدلېږي او د الله سبحانه وتعالی وعده نېږدې ده. د امت د بریا لمر په را ختو دی او موږ د دغې بریا نارې ته په تمه یو.

لکه څنګه چې رجب میاشت د اسلامي دولت د زوال شاهده وه، په همدې میاشت کې د عزت هغه ورځې هم شته چې موږ ته ډېر زیري او هیلې راکوي چې سبا د همدغه امت دی. په رجب میاشت کې د موته جګړه وشوه؛ دا د مسلمانانو او روم ترمنځ لومړۍ ستره جګړه وه. دا جګړه د هغه وخت د کفر تر ټولو لوی لښکر او د نړۍ لومړي قدرت سره وشوه. په دې جګړه کې، د الله توره، خالد بن ولید له ۳ زرو جنګیالیو سره د روم د هغه لښکر مخې ته ووت او بریالی شاتګ یې وکړ چې شمېر یې نږدې دوه لکه کسانو ته رسېده. سره له دې، مسلمانان مات نه شول او روم هم برۍ خپل نه کړ.

همدارنګه په رجب میاشت کې، د صلاح‌الدین ایوبي په لاس بیت‌المقدس فتح شو او مسجد الاقصی یې تر څو لسیزو صلیبي اشغال وروسته د اسلام غېږې ته بېرته راوګرځاوه. نن ورځ به څوک مسجد الاقصی آزاد او د یهودي رژیم له نجاسته پاک کړي؟ څوک به د امت د خاورو د آزادۍ او د امت د مظلومانو، چې ټول غرب یې پر وړاندې یو لاس دی، د مرستې لپاره را پورته شي؟

په رجب میاشت کې د عین جالوت جګړه هم وشوه، چې مسلمانانو په کې تاتاریان مات کړل او د اسلامي خاورو پر لور یې د هغوی ویجاړوونکی پرمختګ ودراوه. نن ورځ به څوک د وخت له تاتاریانو سره مقابله او د مظلوم امت دفاع وکړي؟ د امت بریا به یوازې هغه وخت ترلاسه شي چې د اسلام او اسلامي دولت په سیوري کې خپله واکمني او سلطه بېرته ترلاسه کړي. داسې دولت چې لومړیتوبونه تنظیم او خاورې آزادې کړي، د مظلومانو مرسته وکړي، مقدسات پاک کړي، او کافر غرب په مات شوي او نهیلي حالت کې بېرته خپلو کورونو –که جوړ پاتې وي- ته واستوي!

په همدې میاشت کې، د معتصم په دور کې عموریه ښار هم فتحه شو؛ دا ښار یې وروسته له هغې فتحه کړ چې د مسلمانې خور د «وا معتصماه!» چغه یې ځواب کړه. هغه د یو ستر لښکر په سر کې روان شو او ستره بریا یې ترلاسه کړه. نن ورځ به څوک د هغو زرګونو ښځو لپاره پاڅېږي چې چغې وهي او مرسته غواړي؟ څوک به د غزې ښځو مرسته وکړي؟ څوک به د عراق، چیچنیا، ختیځ ترکستان، مصر او بلې هرې اسلامي خاورې د ښځو مرسته وکړي؟ له یوه نوي معتصم پرته څوک کولی شي د ظالمانو پر وړاندې ودرېږي او تر هغې ارام نه شي څو یې د مظلومانو مرسته نه وي کړې!؟

دا لاسته راوړنې یوازې تاریخي پېښې نه دي؛ بلکې دا د اسلامي امت د دې وړتیا څرګندونه کوي چې له خپلو ماتو او ښویېدونو څخه بېرته راپورته کېدی شي؛ په دغه شرط چې په خپل دین کلک پاتې شي او د خپلې مخلصې رهبرۍ تر شا متحد شي.

اسلامي امت چې څو د خپل مقام او رسالت په اړه ریښتینې پوهه ترلاسه نه کړي، خپل عزت بېرته نه شي ترلاسه کولی. باید پوه شو چې اسلام یوازې فردي عبادات نه دي؛ بلکې د ژوند لپاره یو جامع او هر اړخیز نظام دی. دا نظام له هغو شرعي احکامو څخه جوړ دی چې د الله سبحانه وتعالی د رضا ترلاسه کولو لپاره باید عملي شي. اسلام سیاست، اقتصاد او ټولنه په داسې ډول رهبري کوي چې د دولت تر سیوري لاندې یې خلکو ته هوساینه، امنیت او ارامتیا برابره شي.

خلافت هغه نظام دی چې شرعي دلایل یې پر وجوب ټینګار کوي. خلافت د ټولو مسلمانانو لپاره د دیني او دنیوي چارو د عمومي ریاست نظام دی او تاسیس یې یوه شرعي وجیبه ده. دا نظام د امت وحدت ساتي او اسلام په ټولو برخو کې پلی کوي. له خلافت پرته به اسلامي امت لا هم وېشل شوی او کمزوری پاتې شي. د خلافت د تاسیس لپاره هڅې یوازې یو خوب یا نه ترلاسه کېدونکې هیله نه ده؛ بلکې یوه شرعي وجیبه ده چې ټول مسلمانان یې باید د تحقق لپاره یو لاس شي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«إِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ»**

*ژباړه: امام هغه ډال دی چې تر شا یې جګړه کېږي او د هغه په وسیله (رعیت) له زیان څخه خوندي کېږي.*

رجب میاشت موږ ته د اسلامي دولت، د هغې د غیابت او د امت د بریاوو یاد راکوي. دا میاشت موږ ته بلنه راکوي چې د امت د نهضت او اصلي مقام د بیا راګرځولو لپاره هڅې وکړو. دا هڅې له دې څخه پیلېږي چې یو داسې کتله یا ډله رامنځته کړو چې اسلام په خپل ځان کې مجسم کړي، د امت ستونزې درک کړي او اسلام د ژوند زړه ته بېرته راولي. دا د اسلام تجلی به رښتیني سیاستوال او واکمنان وروزي؛ هغه کسان چې اسلام به حمل کړي، له هغه څخه الهام واخلي، او د وضعیت د رېښتیني بدلون لپاره محرک ځواک شي. داسې چې پر اسلام، احکامو او د قدرت د تحقق او عملي کولو پر څرنګوالي پوه وي.

د اسلام دښمنانو ښه درک کړې ده چې د اسلامي امت ځواک په وحدت او د اسلام په عقیده کې نغښتی دی، چې د فکر بنسټ او د مسلمانانو ترمنځ د پیوستون وسیله ده. نو ځکه یې هڅه کړې چې امت ټوټه ټوټه کړي او په سیاسي، اقتصادي او کلتوري تابع یې بدل کړي. دوی کوښښ کړی چې امت له خپل دین او احکامو بېل کړي چې کنټرول یې کړی شي او تر خپلې ولکې لاندې یې راوستلی شي. له دغه تړاو او وابستګۍ څخه د امت آزادي یوازې هغه وخت ممکنه ده چې د رېښتیني او اصولي پیوند په توګه اسلامي عقیدې ته بېرته ور وګرځو، او دا عقیده باید د تفکر او اسلامي دولت بنسټ وي!

د تمې وړ بریا او د مطلوب بدلون ترلاسه کول د امت د مخلصو بچیانو – چې په پوځونو کې دي او د امت ځواک او ډال دي- له صادقانه ملاتړ پرته ممکن نه دی. دا پوځونه زموږ زامن، وروڼه او د امت یوه برخه دي. موږ باید هغوی ته بلنه ورکړو ترڅو د خپل امت په صفونو کې شامل شي او د امت د ملاتړ لپاره هڅه وکړي.

**ای د اسلام لښکرو، د صلاح الدین او تاتاریانو د فاتحانو لمسیانو!** تاسو د الله سبحانه وتعالی پر وړاندې مسول یئ چې خپل دین او امت ته نصرت وکړئ. خلافت تاسو نصرت ته رابولي او ستاسو ملاتړ ته په تمه دی. دا خلافت یوه ستره فریضه، لوړ مقام او د هغه چا لپاره چې راولي یې، ستر ویاړ دی. ایا تاسو نه غواړئ چې د مدینې د انصارو په څېر د الله سبحانه وتعالی د دین انصار او مرستندویان وئ؟ ایا نه غواړئ چې نوم مو د الله سبحانه وتعالی په نزد د اسلامي امت د فاتحانو او ژغورونکو په توګه ثبت شي؟

حزب التحریر تاسو نصرت ورکولو ته رابولي چې د نبوت پر منهج راشده خلافت تاسیس کړئ؛ ځکه یوازې خلافت اسلامي امت ته ویاړ او عزت بېرته راوستلی شي.

**د الر ایه مجلې له ۵۳۱مې ګڼې**

**لیکوال: استاد محمود اللیثی**

**۱۴۴۶هـ.ق کال د رجب ۲۲مه**

**۲۰۲۵م کال د جنوري ۲۲مه**